# سره زر په سره زر، سپین زر په سپین زر، غنم په غنم، وربشې په وربشو، (وچه) خرما په (وچې) خرما، او مالګه په مالګه، یو بل ته ورته (او) برابر، لاس په لاس (سود دی) خو کله چې دا ډولونه سره مختلف وي، نو څرنګه مو چې خوښه وي، خرڅلاو وکړئ، خو دا چې لاس په لاس (نغده معامله) وي

له عبادة بن صامت -رضي الله عنه- څخه روایت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «سره زر په سره زر، سپین زر په سپین زر، غنم په غنم، وربشې په وربشو، (وچه) خرما په (وچې) خرما، او مالګه په مالګه، یو بل ته ورته (او) برابر، لاس په لاس (سود دی) خو کله چې دا ډولونه سره مختلف وي، نو څرنګه مو چې خوښه وي، خرڅلاو وکړئ، خو دا چې لاس په لاس (نغده معامله) وي».
[صحيح] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله  په شپږو مشهورو ربوي ډولونو کې د صحیحې او مشروعې معاملې طریقه څرګنده کړې ده. دا شپږ توکي عبارت دي له: سره زر، سپین زر، غنم، وربشې، خرما او مالګه، نو کله چې معامله د یو ډول په یو ډول وي لکه: سره زر په سرو زرو، یا خرما په خرما نو رسول الله  ورته دوه شرطونه ایښودلي دي: لومړی: که چیرې شي موزون وي(تلل کیږي) لکه سره زر او سپین زر، نو باید په وزن کې سره برابر وي، او که مکیل وي (پیمانه کیږي) لکه غنم، وربشې، خرما او مالګه، نو باید په پیمانه کې سره برابر وي. دویم دا چې: پلورونکی باید بیه او پېرودونکی مال ترلاسه کړي او دا کار باید د پلور (معاملې) په مجلس کې وشي. نو که دا ډولونه یو له بله مختلف شول، لکه د سرو زرو پلور په سپینو زرو، یا د خرما پلور په غنمو، نو بیعه جواز لري، خو پدې شرط چې پلورونکی باید بیه او پېرودونکی مال (جنس) د معاملې په مجلس کې ترلاسه کړي؛ که نه، نو دا بیع باطله ده او پلورونکی او پېرودونکی دواړه په حرام سود (ربا) کې اخته شوي دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66385